هـا ري

واشنگټن ۱۸/۰۹/۲۰۰۸

# د امريکا انتخابات او افغان-امريکن تړلنه

په متحده ایالاتو کي، د کال ۲۰۰۸ د جمهوري رياست انتخابات ښايي ددې هېواد په معاصر تاريخ کي تر ټولو مهم او حياتي انتخابات وي. واقعا، امريکا د خارجي او داخلي جدي ستونزو سره مخامخه ده. د يوې خوا، امريکا په يوه وخت کي د افغانستان او عراق په دوو نه تمامېدونکو او جنجالي جنګونو کي لتاړه ده. د بلي خوا، د امريکا اقتصاد خراب، د خوارکي موادو،تيلو، برق، اوبو، او ټرانسپورټ نرخونه په بېساري توګه لوړ سوي، او د صحت، کور، او د موټرانو بيمې او نور ورځني لګښتونه ديرش، پنځوس او حتی سل فيصده جګ سوي دي. خو په عين زمان کي، د کورونو نرخونه او د کورونو د معاملاتو د سکتور سره مربوط بانکونه او پولي موسسات، اسهام او مارکيټ په خطرناکه توګه را کښته سوی دی. بېکاري ډېره سوې ده. انفلشن جګ سوی دی. د سترو او نامتو شرکتونو او کمپنيو ډېوالي کېدل عام سوي دي.د عامه امريکايانو اعتماد ته سخته صدمه رسېدلې ده. ډالر خپل ارزښت له لاسه ورکوي. خلک د سبا لپاره خوشبين ندي. عادي امريکايانو پر جېبونو باندي لاسونه ټينګ نيولي دي او له مصرف څخه ډډه کوي. همدغو سياسي او اقتصادي ستونزو د امريکا د پراخي او زورورې مينځنی طبقې ژوند او شرايط لړزانه او مشکل کړي دي.

د امريکا د جمهورري رياست په انتخاباتو کي به معلومه سي چي ايا امريکايان د عراق د جنګ دوام غواړي او کنه؟ په افغانستان کي څه غواړي؟ په راتلونکو کلونو کي به امريکايان په نړيواله سطحه کي څرنګه پاليسي غوره کي؟ د بوش"د ټروريزم پر خلاف" د تباه کونکي او غلطي پاليسۍ دوام او که اصلاح غواړي؟ په اسلامي نړۍ کي د دښمنانو ډېرېدل غواړي او که د افغانستان، عراق، پاکستان، فلسطين په شمول د مينځني ختيځ د حادو او تاريخي ستونزو د حلولو لپاره نوي او موثري لاري چاري لټول غواړي ؟ په اقتصادي پاليسيو کي عمده تجديد نظرونه غواړي او کنه؟ د محيط، ايډز، فقر، سياسي بې ثباتيو، او د نړيوال مګر بې کوره او بې مرکزه ټروريزم د خطر، او د يوشتمي پېړۍ د نورو ګلوبلايز ستونزو کنټرولول غواړي او کنه؟ په متحده ایالاتو کي، د کال ۲۰۰۸ د جمهوري رياست انتخابات هم دونه زيات اهميت لري.

که څه هم، په عراق کي_ البته د پخوا په پرتله_ څه امنيت راغلی، خو په سياسي ساحه کي پرمختګ نسته. فرقوي جنګونه څه کم سوي دي، خو هر ګړی يې د بيا را ژوندي کېدو امکان سته. حکومت سته، خو ډېري نوري مسلح ډلي هم سته. څه کراري ښکاري، خو خلکو اعتماد له لاسه ورکړی دی. جمهورريس بوش د امريکا د دفاع په ملي پوهنتون کي پخپلي وروستۍ مهمي وينا کي وويل: په عراق کي عراقيان پخپله د حکومت او امنيت چاري په غاړه اخلي. په الابنار ايالت کي، د امنيت مسوليت د عراق ملکي چاوراکو ته وسپارل سو. دو کاله پخوا ددې پيښي اټکل هم نسو کېدای. الابنار په عراق کي تر ټولو خطرناکه ځای وو. القاعد د ښار په هر ګوټ کي غلې او فعاله وه، خو نن ورځ القاعده په ګرده عراق کي د امريکايي عسکرو د تعقيب او زار له ډاره لړزانه او د تېښتي او ماتي په درشل کي ده. زموږ پالسي او "سرج" بالاخره کار ورکی. په بغداد او نورو ښارونو کي نسبي امنيت راغلی دی. " په عراق کي، د دغه او همدا راز نورو عملياتو په نتيجه کي، مرګه ژوبله او تشدد د کال ۲۰۰٤ د پسرلي په تناسب را کښته سوی دی. د ملکي کسانو وژل را کښته سوي دي، فرقوي قتلونه را کم سوي دي، ځآنمرګي حملې را ټيټي سوي دي، او د عراق په ګوټ ګوټ کي عادي ژوند بېرته اعاده کېږي.. . په داسي حال چي القاعده په عراق کي تر زياتېدونکی فشار لاندي ده،ټروريستان يو ځل بيا په هغه ځای کي فعاله سوي دي چي همدا مبارزه په لمړۍ ورځ پکي پيل سوه."

مګر د امريکا لوی پوځي قومندان جنرال پتريس وايي:" زه د کاميابۍ ضمانت نه سم کولای، خو حالات څه ښه سوي دي." د امريکا د پوځ لوی درستيز، جنرال مولن، د متحده ایالاتو کانګرس ته وويل: "موږ په افغانستان کي کامياب نه يو. خو زه پدې باور لرم چي کېدای سي کاميابه سو." هغه زياته کړه يوازي په وژلو برۍ نه تر لاسه کېږي. د بياودانولو پروژي، ديپلوماسي، مرستي او کمکونه بايد د نظامي عملياتو سره جوخت او موازي وي څو بريالي سو. د امريکا دپوځ د لويو قومندانانو همدا نظر د بوش د ادارې اکثره څرګندوني باېزه کوي. د افغانستان په باب خو حتی خپله جمهورريس بوش هم د سختو ورځو او بدو ساعتونو اټکل وهي. هغه وايي افغانستان ته نور اضافه عسکر استوي. د افغاني اقوامو سره به يو ځل بيا د طالبانو د ماتولو لپاره مرسته او همکاري پيل کړي. هغه وويل حالات نور هم


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

خراب سوي دي. القاعده تر پخوا فعاله سوېده. طالبانو ښارونه او لاري نا امنه کړيدي. جنگونه او مرگ ژوبله ډېر سوېده.

د متحده ایالاتو د راتلونکي جمهوررييس لپاره به ددغو او د امريکا د نورو پرابلومونو حلول سخت کار وي. که چيري سناتور اوباما او که سناتور مکېن ا نتخابات وگټي، دواړه مجبوره دي چي د بوش سياسي او اقتصادي خرابۍ ترميم کړي. دا انتخابات نه يوازي د امريکايانو لپاره اهميت لري، بلکي د افغانانو لپار يې هم اهميت ډېر زيات دی. ښکاره خبره ده چي د افغانستان برخليک په کابل کي نه بلکي تر ډېره حده_ ښايي يو څه لا بالا_ په واشنگټن کي ټاکل کېږي. په بل عبارت، د افغانستان اوسنی حکومت د امريکا په نظامي زور او پيسو چلېږي. د افغانستان د جمهوررييس څخه نيولې بيا تر عادي مامور پوري د امريکا او اروپا له خزانو څخه معاشونه خوري. په افغانستان کي بېشماره جنگسالاران، تکنوکراتان، او لنډه دا چي د حکومت اکثره بودجه د امريکا په چاندو او خيراتونو باندي چلېږ ي. د دغسي يوه ستر طاقت نفوذ، پل، او سياسي سلطه ډېره ښکاره او څرگنده وي.

اوس، سوال دا دی چي کوم کانديد د افغاني ټولني لپاره گټور دی. ايا سناتور اوباما به د امريکا او افغانستان په درد وخوري که سناتور مکېن؟ ايا اوباما که مکېن کولای سي چي موجوده بېشماره ستونزي اواري کړي؟ ددې ليکني اصلي هدف دا دی چي ددغو دواړوکانديدانو پر پالسيو باندي څه رڼا واچول سي او بيا وروسته په متحده ايالات کي افغان-امريکن تولنه دېته تشويق کړی سي چي د جمهوري رياست په انتخاباتو کي سناتور اوباما ته رايه ورکي. ايا د افغان-امريکن ټولني ونډه د امريکا د جمهورریاست د مقام په انتخاباتو اهميت لري او کنه؟ ولي بايد دا انتخابات جدي ونيول سي؟ څرنگه افغان-امريکن ټولنه د همدې هدف د لاسته راوړلو لپاره منظمه او وهڅول سي؟ ولي بايد د انتخاباتو څخه مخکي ځانونه راجستر سي؟ څرنگه ددې فرصت څخه ښه استفاده وسي؟ پدې ليکنه کي به تر يو حده پوري دغو سوالونه ته هم څه لنډ جوابونه ورکړه سي.

د امريکا جمهوري رياست انتخاباتو کي، د سناتور اوباما بری د امريکا، افغانانو، او جهان په گټه دی. هغه د عراق د جنگ پر خلاف له لمړی ورځي څخه مخالف دريځ غوره کړی دی. هغه له عراق څخه د امريکايي عسکرو راوتل غواړي. هغه په مينځني ختيځ کي د جنگ او مرگ ژوبلي ختمول غواړي. هغه په مينځني ختيځ کي د بوش پاليسۍ غلطي او زياني بولي. ښاغلی اوباما د عراق جنگ د عراق، د سيمي او متحده ايالاتو لپاره زيانمن او خطرناکه گڼي. سناتور اوباما د عراق او افغانستان د جنگونو بې شمارو لگښتونو، په زرهاوو تلفاتو، ټپيانو، ورانيو، سياسي بې ثباتيو، او د بې کوره او بې وطنه نړيوال ټروريزم خوربدل او لا ډېربدل اندېښمن کړی دی. سناتور اوباما وايي له مذهبي ټروريزم سره مجادله پکار ده، خو د ټروريزم د ږېږېدو او خورېدو شرايط هم بايد وپېژندل سي. د القاعدې او دغه راز نورو ټروريستي ډلو سره د مقابلې لپاره بايد يوه نوې او موثره ستراتيژي ولرو. هغه د عراق د تباه کونکي او غير عادلانه جنگ ختمول غواړي. د عراق جنگ او ناروين د بوش حکومت خلق کی، خو د امريکا راتکونکی جمهوررييس يې بايد ختم کي. د اوباما همدا نظر د تاييد وړ او گټور دی. د نړۍ اکثره خلک د ښاغلی اوباما سره موافق دی. د عراق د جنگ ختمول پکار دي.

دغه راز، سناتور اوباما غواړي چي د افغانستان ناکراري وضعي ته د امريکا او بين المللي ټولني توجه زياته کړي. څرگنده خبره ده چي په افغانستان کي حالات خراب دي. مرکزي حکومت کمزوری او فاسد دی. اقتصاد خراب دی. بېکاري رسما ٤٠ فيصده ښودل کېږي. د خوراکي موادو، تيلو، او د ژوندانه د نورو مقدماتي ضرورتونو نرخونه په حيرانونکې توگه جگ سوي دي. بلخوا، طالبان او القاعده په تهاجم کي دي او پر مختگ کوی. د ډيموکرات گوند لمړی تور پوټکی کانديد سناتور اوباما څو ځله ويلي دي چي هغه غواړي د افغانستان په بياودانولو زياتي پيسې ولگولي. د طالبانو او القاعدې د ماتولو لپاره هغه هيواد ته اضافه عسکر واستوي. هغه، په عين حال کي، د افغانستان په حکومت کي اصلاحات، حساب او کتاب، او شفافيت هم غواړي. هغه پوهېږي چي يوازي د نظامي مټ په زور جنگونه نه گټل کېږي. د جنگونو گټل ښه ستراتيژي، غښتلې او پوه ډيلوماسي، ښه او مطمين ملگري، په پېخر پيسې او ښه ډېره هوښياري هم غواړي. د اوباما همدا مفکوره معقوله، ښه، او گټوره ده. په بل عبارت، د سناتور اوباما په کاميابۍ کي زموږ خيردی.

د برتانيې پخوانی ډيلومات او د افغانستان لپاره د بين المللي مرستو د انسجام کولو لپاره پخوانی کانديد، ښاغلي اشډوان ويلي دي چي د افغانستان د اوسني بحران د حلولو لپاره ښايي په اغلب گومان اوباما مناسب لېډر وي. ښاغلی اشډوان


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

وايي: اوباما غواړي چي د بين المللي ستونزو او مسايلو په حلولو کي د نورو ملکونو سره همکاري او مشوره وکي. هغه ښايي يوازنی لېډر وي چي همدا کار وکړای سي.دغه راز، د ملګرو ملتونو پخواني باتجربه هسپانوي ډيلومات او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو خاص استازی، فرنسيس و ينډريل، وايي: په افغانستان د ملکي کسانو زتېدونکو قتلونو د حکومت او خارجيانو پر خلاف په عامه افغانانوکي قهر او مخالفت ډېر کړی دی. هغه زياتوي متحده ايالاتو او بين المللي ټولني پر کرزي باندي له حده زيات اعتماد وکی، او بيا يي د هغه د مرکزي حکومت د صلاحيت په خوړولو او پراخولو کي مرسته و نه کړه.

مګر د ښاغلی مکېن په انتخاباتي برى کي ښايي څه نور هم تاواني او و رټل سو. هغه د عراق د جنګ کلک طرفداره دی. هغه د عراق جنګ ښه او ضروري بولي. سناتور مکېن وايي دا جنګ بايد وګټل سي حتى که سل کاله نور هم وخت وغواړي. هغه وايي د عراق جنګ اوس لا ګټل سوی دی. مکېن وايي چي د يوشتمي پېړۍ ستر چلنج به اسلامي تروريزم وي. د سناتور مکېن ښکاري او جنګي مرستياله سارا پيلن وايي د عراق په جنګ کي د خدای اراده ده. دا جنګ بايد وګټل سي. هغوی د عراق جنګ ته مذهبي رنګ ورکوي. هغوی به د بوش د اته کلني دوري ادامه وي. هغوی د بوش د خارجي او داخلي پاليسيو سره چندان توپير نلري. په سپينه مانۍ کي، د يو بل رپبليکن جمهور ريس او يوې محافظه کاري مرستيالي راتګ به ډېر خطرناکه وي. هغوی د جنګ دوام غواړي. هغوی ددغه انتخاباتو د ګټلو لپاره د هر راز وسيلي، منفي تاکتيک، او پدي وختونو کي د ښکرورو درواغو د ويلو څخه هم ډډه نه کوي. په انتخاباتو کي، د رپبليکن د حزب ماتول پکار دي. د ښاغلي مکېن انتخاباتي کمپين غواړي چي دا ثابته کړي چي د عراق جنګ هډو هيڅ سته نه. هغوی غواړي چي د عراق جنګ د خلکو له فکرونو څخه ليري وساتي.

د امريکا د جمهوري رياست د مقام لپاره انتخابات خپلي نهايي مرحلي ته رسېدلي دي. د دې کال د نومبر په مياشت کي به د امريکا راتلونکی جمهورريس معلوم سي. د متحده ايالاتو انتخاباتو ته بايد پوره توجه وسي. پدې انتخاباتو کي بايد خپل دوست او مخالف وپېژندل سي. د پاليسيو اختلاف يي بايد روښانه کړی سي. تر ټولو مهمه دا چي په متحده ايالاتو کي د افغان-امريکن ټولو غړو ته پکار ده چي پدې انتخاباتو کي که چيري امکان ولري ډله ايزه ګډون وکي، که چيري جمعي او منظم حرکت ممکن نه وي، په فردي شکل برخه اخيستل هم ټيک ده. هغه افغانان چي په امريکا کي ژوند کوي او تابعت يي تر لاسه کړی دی، هغوی ته لازمه ده چي خپله مدني او سياسي وظيفه په ښه شکل سر ته ورسوی. په امريکا کي، ټولي مهاجري ټولني د متحده ايالاتو په ايالتي، محلي او ملي انتخاباتو کي برخه اخلي. ځيني کانديدان خپلو غونډو ته مېلمانه کوي، او د ځينو کانديدانو لپاره کمپين کوي. د افغان-امريکن ټولني لپاره هم پکار ده چي پدې انتخابات کي همدا کار وکی. خپل ځانونه ارجستر کي. د کانديدانو سياسي او اقتصادي پاليسی سره مقايسه کي. د کانديدانو سياسي پلټفورمونه وګوري. او بيا د خپلي خوښي کانديد ته رايه ورکي.

په امريکا کي، د افغان-امريکن د ټولنو له مشرانو او مخکښو شخصيتونو او ډلو څخه هيله دا ده چي ددې انتخاباتو په اهميت باندي په خپلو محلي غونډو، ناستو، او ګردابونو کي خبري وکي. د خپلي ټولني غړي دېته وهڅوي چي د سناتور اوباما په ګټه رايي ورکي. که چيري همدا فعاليت د يوې ټولني په شکل وسي، حتما يي تاثير خورا زيات وي. خو که چيري همدا کار حتى په فردي شکل هم وسي، هغه هم اهميت لري. څکه وروسته له اتو کالو څخه يو ځل بيا ددې فرصت برابر سوی دی چي د امريکا په پاليسيو څه بدلون راسي. ددغه بدلون په راوستلو کي بايد فعاله ونډه واخيستل سي. لمړی افغان- امريکن ټولني ته پکاره ده چي په خپلو ايالاتونو کي سره را ټول او منظم سي. موږ ټول په پاليسي کي بدلون غواړو. راځئ چي په ګډه د رپبليکن پارټۍ د تاريخ کندي ته ور ټېله کوو. راځئ چي د بوش دوران ته ټکی کېږدو. راځئ چي د رپبليکن پارټۍ رانسکوره کوو. د همدې هدف د لاسته راوړلو لپاره، په امريکا کي افغان-امريکن بايد ځانونه راجستر کي. عموما، د هر ايالت د راجستربشن مراحل توپير لري، د واشنګټن په ساحه کي، د ورجينا په ايالت، يو رايه ورکونکي بايد راجستر وي، او راجستربشن د انتخاباتو څخه بايد ۳۰ ورځي مخکي وي. په بل عبارت، د راجستربشن لپاره فقط د سپتمبر مياشت لا پاتي ده. د راجستربشن پراسيس ډېر ساده او لنډ دی. نوم، ادرس، سوشل سيکيورټي نمبر، او د ډرايور لايسنس نمبر غواړي. په پنځو دقيقو کي ډن.

په امريکا کي، اکثره مهاجري ټولني د متحده ايالاتو په ملي، ايالتي، ښاري، او محلي انتخاباتو کي برخه اخلي. د امريکا په اقليتونو کي، يهوديان، هنديان،کيوبايان، عربان، کورياپان، او چينايان په انتخاباتو کي فعاله ونده لري، خو پدې وروستيو کلونو کي نور اقليتونه لکه ايرانيان، پاکستانيان، او ويتناماپان، او نور اسيايي او افريقايي اقليتونه هم فعاله او منظم سوي دي. هر اقليت د خپلو ګټو سره سم يوه کانديد ته رايي ورکوي، د يوه کانديد د انتخاب لپاره کمپين کوي، او


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

لنډه داچي د يوه تبعه په صفت خپله مدني وظيفه او مسوليت جدي نيسي. په عين زمان کي، د خپلو ډله ييزو ګټو دفاع هم کوي. د افغان امريکن ټولني لپاره هم لازمه ده چي له دغه فرصت څخه ښه استفاده وکي او د يوه ټاکلي کانديد په نفع کار وکي.

په افغانستان او عراق کي، بوش ناکامي د هغه په ستراتيژي کي ده، نه د عسکرو په لړوالی کي. د امريکا راتلونکو مشرانو ته پکار ده چي په افغانستان او عراق کي د خپلو ناکاميو څخه د عبرت درس واخلي. په افغانستان کي، د نن ورځي د مداخلګرو قوتونو په جمله کي بايد انګريزان د ښي تجربي خاوندان وي، ځکه هغوی پدې سيمه او وطن کي پخوانی او نه هېرېدونکي خاطري او کيسي لري. اروپايان د افغانستان له جنګونو څخه ستړي دي، او په افغانستان کي د اروپايي عسکرو زياتېدونکو تلفاتو اورپايان هلته د پاته کېدو په اړه سخت انديښمن کړي دي. د عراق جنګ ددې لپاره وسوو چي د نظامي مټ او طاقت ستراټيژيکي اهميت او قدرت تثبيت سي، خو په عوض کي، دې جنګ د نظامي حل محدوديت او کمزوري رابرسېره کړه. امريکايان پدې عقيده دي چي په عراق کي د امريکايي عسکرو "سرج" د مرګ ژوبلي او تشدد اندازه را کمه کړه. ياغيان يي سټ کړل، او فرقوي جنګونه يي ارام کړل. خو په حقيقت کي په عراق کي، د تشدد او جنګونو د راکمولو اصلي عوامل د امريکا او سنيانو معاملي، سني مليشاوو ته معاشونه ورکول، پخواني پوځيان او پوليس بېرته په دولت کي شاملول، او د شيعه راډيکال ملا مقتدا الصدر سره اوربند دي.

د عراق او افغانستان جنګي لګښتونو د امريکا ډکه خزانه تشه توره کړېده. د تيلو ګرانو قيمت نور هم د امريکا اقتصاد کمزوری کړی دی. متحده ايالات هره ورځ له شلو ميلونو بېلرو څخه زيات تيل سوځوي. له همدې څخه، دولس فيصده ور واردېږي. په بل عبارت، امريکا هر کال ۷۰۰ بيلونونه ډالره د انرژی په اخيستلو لګوي. جمهورريس کلنټن (۱۹۹۲-۲۰۰۰)، د امريکا بودجه داسي سبماله کړه چي اضافي پيسي ذخيره سوې، او زاړه پورونه کرار کرار سپکېدل. د کلنټن په دوران کي، د امريکا اقتصاد په تېره بيا د انفورمېشن تيکنالوژي سکټور د امريکا عمومي اقتصاد نور هم غښتلیکړی وو . د اوباما غوندي جمهورريس کلنټن هم يو غريب او يتم بچه وو، د مصرف او عايداتو سخت خيال يي ساته. د راتلونکي نسل په پيسو يي لوبي نه کولي. خو د بوش په دوران کي نه يوازي دا چي خزانه لوټ او تالا سوه، بلکي امريکا تر غوړو پوري د چين، هند، عربي هېوادونو، او نورو ملکونو پوره وړې سوه. د عراق جنګ ټوټال په پورونو چپلېږي. د بودجي کسر دونه زيات او جګ دی چي په اعدادو او ارقامو يي سری سربداله کېږي. د عراق جنګ هر اونی دوه بيلونه ډالره سوځوي. د بوش حکومت د امريکا راتلونکی نسل هم پوره وړی کی.

دغه راز، د عراق د جنګ او د بوش د اداري د نورو زيانمنو پاليسيو په خاطر په نړی کي د امريکا نوم او نښان ته سخته صدمه رسېدلي ده. حتی په اروپا کي چي يو وخت د امريکا مطمين ملګری بر اعظم وو، هلته هم امريکايي ضد احساسات په پېخر ډېر سوي دي. د بوش له بده شامته حتی په برتانيي کي هم امريکايي ضد احساسات په پراخه پيمانه زيات سوي دي. په اسلامي نړۍ کي خو پوښتنه مه کوئ. هلته، د امريکا پر ضد احساسات له حده او چوکاټه وتلی دي. مسلمانان فکر کوي چي امريکا د "تروريزم سره د مجادلي" تر نامه لاندي د ټول عالم اسلام سره دښمني را خيستی ده. په بل عبارت، تروريزم صرف يوه پلمه ده، اصلي هدف د مسلمانانو ځپل او سپکاوی دی. د مسلمانانو د ملکونو لاندي کول، د تيلو زېرمو ته ځان رسول، او ستراتيژيکي برلاسي تر لاسه کول، د امريکا اصلي هدف دی. په اسلامي ملکونو کي د عامه افکارو ټولي سروې ښيي چي مسلمانان سخت د امريکا مخالف سوي دي. هغوی باور لري چي د بوش اداره د تمدنونو د ټکر او تصادم ته معتقده دي. مسلمانان ګومان کوي چي د بوش اداره يو مذهبي ډله ده چي د اسلام سره د ټکر مسله د هغوی لپاره يوه ايديولوژيک او عقيدتي مسله ده.

يوځل بيا، ددې حالت بدلول پکار دي. د دواړو کانديدانو تر مقايسي را وروسته، د سناتور اوباما انتخاب به نه يوازي د امريکا په خيروي بلکي د زموږ او نورو ملکونو په خير به هم وي. د همدې مهمي مسلي د لاسته راوړلو لپاره په امريکا کي د ګردو افغاني ټولنو، ډلو، مشرانو، او مخکښو کسانو څخه هيله ده چي پدې ارتباط جدي کار وکي. د خپلي کمونيټي خلک دېته تشويق کي چي د سناتور اوباما په ګټه رايه ورکي. پدې انتخاباتو کي فعاله ونده اخيستل يوه حياتي مسله ده. راځئ چي په ګډه او همکاری د رېپبليکن د قدرت کمبله ورټوله کوو. راځئ چي د بوش پالسيو او ناکاميو ته ټکی کښېږدو. راځئ چي د رايو او مدني حقوقو په زور په سپينه مانۍ کي د بدلون راوستلو سره مرسته وکوو. والسلام.


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de